مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۲۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (نویمه برخه)

## میر محمد اکبر رضاء

په ۱۹۳۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې لیسې ته تللی دئ؛ د ماساچوست د تکنالوژی له انستیتوت څخه ئې خپله ماستري په هایدرولوژي او الکتریک انجنیرینګ کې اخیستې ده. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د هلمند د درې د پرمختیایي پروژې کارمند. په ۱۹۶۳ز کال کې د اوبو او د خاورو د ریاست رئیس. په ۱۹۶۴ز کال کې د کرنې د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کرنې وزیر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د هلمند د درې د پرمختیایي پروژې رئیس. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې ئې له ایران سره د هلمند د تړون په خبرو کې ګډون کړی وو. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## سید قاسم رشتیا

د سید حبیب زوی په ۱۹۱۳ز کال کې زېږېدلی دئ. تر ۱۹۳۰ز کال پورې ئې د استقلال په لیسې او تر ۱۹۳۵ز کال پورې ئې د اقتصاد په انستیتوت کې زده کړې وکړې. په ۱۹۳۱ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې سکرتر. په ۱۹۳۲ز کال کې د مخابراتو په وزارت کې د باندنیو اړیکو سکرتر (سرکاتب). په ۱۹۳۴ز کال کې د کابل د ادبي ټولنې /اکاډیمۍ غړی. له ۱۹۳۴ تر ۱۹۳۸ز کال پورې د کلنۍ (سالنما) او د کابل مجلې محرر. په ۱۹۳۹ز کال کې د افغان اکاډیمۍ اسیستانت. په ۱۹۴۱ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست د نشراتو عمومي مدیر. په ۱۹۴۵ز کال د مطبوعاتو د ریاست مرستیال. په ۱۹۴۸ز کال کې (د کابینې د مقام په لرلو سره) د مطبوعاتو رئیس. په ۱۹۵۰ز کال کې د اقتصادي پلان جوړونې رئیس. په ۱۹۵۱ز کال کې د ملګرو ملتونو د دفتر لپاره رابط مأمور. په ۱۹۵۴ز کال د باختر خبرې آژانس رئیس. په ۱۹۵۷ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست رئیس. په ۱۹۵۹ز کال کې د دولتي کارمندانو د کوپراتیف رئیس. په ۱۹۶۰ز کال کې د چکوسلواکیا سفیر. په ۱۹۶۲ز کال کې د مصر سفیر. په ۱۹۶۳ز کال کې د اساسي قانون د تسوید د کمېټې مرستیال رئیس. په ۱۹۶۳ز کال کې د مطبوعاتو وزیر. په ۱۹۶۴ز کال کې د مالیې وزیر. په ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. په ۱۹۷۰ز کال کې د جاپان سفیر. په ۱۹۵۵ز کال کې ئې د (افرو – ایشین/ افریقا – آسیایي) په لومړني کفرانس کې په باندونګ کې ګډون وکړ؛ په ۱۹۶۱ز کال کې د ناپییلو هېوادونو په لومړي او دوهم کنفرانس کې بلګراد کې ګډون وکړ او په ۱۹۶۴ز کال کې په قاهرې کې ګډون وکړ. په ۱۹۶۳ز کال کې د افغان سرې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مياشتي ټولنې يو له بنسټګرو څخه. د افغان تأريخي ټولنې او د افغان انسايكلوپيديا د ټولنې غړی. په ۱۹۴۵ز كال كي ئـي د معارف دوهم درجه مډال تر لاسه كړ؛ په ۱۹۵۹ز كال كي ئـي د ستور دوهم درجه مډال تر لاسه كړ؛ او په ۱۹۶۰ز كال كي ئـي د رښتين مډال تر لاسه كړ. ليكوال او مؤرخ. د يو شمـېـر آثارو مؤلف لكه : افغانستان په ۱۹ پيړۍ كي چاپ ۱۹۴۶؛ جمال الدين افغان ۱۹۷۷ز كال. د افغان – انګليس دوهمه جګړه ۱۹۷۸ز كال. او د آزادۍ بيعه : د افغانستان غميزه ۱۹۸۴ز كال. اوس په سويتزرلند كي ژوند كوي.

## صديق الله رښتين

د مهمندو له قبيلې څخه د مولوي تاج محـمـد زوی په ۱۹۱۰ز كال كي په غازي آباد كي زېـږېـدلی دئ. زده كړې ئـي د هډې په اسلامي مدرسي كي كړې دي. منځنی ښوونځی ئـي د كابل په عربي درالعلومو كي بشپړ كړ. په ۱۹۳۹ز كال كي د ادبي ټولنې غړی. په ۱۹۴۱ز كال كي د پـښـتو ټولنې / اكاډيمی رئـيس. په ۱۹۴۳ز كال كي د انسايكلوپيديا د رياست د ژباړې مدير. په ۱۹۴۶ز كال كي د مطبوعاتو په رياست كي د نشراتو مدير. په ۱۹۴۸ز كال كي د اكاډيمی د پـښـتو د ځانګي مرستيال رئـيس. د پـښـتو د انسايكلوپيديا د مديريت مدير او په ۱۹۵۰ز كال كي د هـېـواد د ورځپاڼي محرر. په ۱۹۵۱ز كال كي د پـښـتو اكاډيمی عمومي مدير په ۱۹۵۵ز كال كي ددې اكاډيمی رئـيس. په ۱۹۵۶ز كال كي د كابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي استاد. په ۱۹۵۶ز كال كي د معارف په وزارت كي د پـښـتو ژبې لپاره سلاكار. په ۱۹۶۱ز كال كي د كابل پوهنتون پوهاند. په ۱۹۶۳ز كال كي د پښتو اكاډيمی رئـيس. د ګڼ شمـېـر آثارو مؤلف. مورنۍ ژبه ئـي پښتو ده.

## محمد صديق روهي

د پكتيا د خوست بومي اوسـېـدونكی. د بيروت په امريكايي پوهنتون كي ئـي تحصيلات كړي دي. د كابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي د پښتو له ځانګي فارغ سوی دئ. د ادبياتو په پوهنځي كي د پښتو د ادبياتو استاد او د ښوونې او روزنې د پوهنځي استاد. د ۱۹۷۰ز لسيزې په اوږدو كي د پښتو اكاډيمی رئـيس. په ۱۹۸۲ز كال كي د علومو د اكاډيمی غړی.

## غلام رؤوف روشان

د محـمـد دلاور قاضی زوی په كابل كي زېـږېـدلی دئ. د حـبـيـبـيـي له ليسې او په ۱۹۶۴ز كال كي د كابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۷ز كال ئـي د ييل د پوهنتون د طب له پوهنځي [1] څخه په (عامه روغتيا كي ماسترۍ) [2] اخيستي ده. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۸ز كال پوري د عامي روغتيا په ښوونځي [3] او (په نورو طبی رياستونو كي) مدرس وو. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز كال پوري د روغتيا په وزارت كي د پلان د رياست عمومي مدير او وروسته د همدې رياست رئـيس سو. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز كال پوري په كابل كي د ماشوم د روغتيا/ صحت طفل د انستيتيوت رئـيس. د عامې روغتيا د افغان ژورنال بنسټګر محرر/ مؤسس محرر. له ۱۹۸۴ تر ۱۹۸۵ز كال پوري په لاس انجلس

[1] - Yale University school of Medicine
[2] -M.P.H. Master of Public Health
[3] -School of Public Health


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليرلو مخكي په ځير و لولـئ

کي د ﴿سَوتلند په کالج﴾ [4] کي مدرس. د روغتیا د نړۍ وال سازمان WHO د اجرائیوي بورډ علی البدل غړی. د ﴿متخصصینو د ټولنو﴾ [5] غړی او سلاکار.

## محمد خالد روشان

﴿د جلال آباد د پښتو او د دري ژبو د شاعر﴾ محمـد دلاور قاضي زوی، په ۱۹۲۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۳ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی دئ. خپل لیسانس ئـې په ۱۹۵۰ز کال کې په ﴿لنکن﴾ [6] کې د ﴿نبراسکا﴾ [7] له پوهنتون څخه په ژورنالیزم کي واخیست؛ او خپله ماستري ئـې په ۱۹۵۲ز کال کې په لاس انجلس کې د کالیفورنیا له پوهنتون څخه واخیستله. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د انیس د ورځپاڼي محرر. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پورې په لندن کي د افغان سفارت مطبوعاتي اتشه. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پورې په لندن کې د ﴿افغانستان د خبرونو، انګلیسي میاشتنۍ﴾ [8] بنسټګر محرر. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د باختر د خبري آژانس رئـیس. د افغانستان د مجلې بنسټګر محرر. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د مطبوعاتو د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د قبائـیلو د چارو وزیر. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د ژورنالیزم د څانګي استاد. په ۱۹۷۳ز کال کي تقاعد ته مجبور کړل سو. او له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د ﴿اپارسین د کمپنۍ﴾ [9] مدیر او د خرڅلاو مدیر سو. په بې شمیرو کنفرانسونو او سیمینارونو کي ئـې ګډون کړی دئ. د یو شمـېـر آثارو مؤلف، چي د ربښتیا او مینه پال مډالونه ئـې هم اخیستي دي.

## ډاکټر نبي روشنمل

﴿د غوایي له پاڅون وروسته﴾ د کرني او د ځمکو د اصلاحاتو په وزارت کي د دولتي فارمونو رئـیس.

## محمـد اکبر روشن ضمیر

د لوړو زده کړو د پروګرامونو مدیر. په دارالمعلمینو کي د تجربوي ښوونځیو د ښوونکو استاد او مشر. د معارف د وزارت د پوهني او عرفان د نشراتو محرر. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

## ډاکټر محمـد عثمان روستا

د محمـد زمان تره کي زوی او د ډاکټر محمـد احسان روستامل کشر ورور. د استقلال له لیسې او د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. خپله دکتورا ئـې په سیاسي علومو کي له فرانسې څخه واخیستله. د کابل پوهنتون د سیاسي علومو د پوهنځي پوهنیار او وروسته پوهندوی. له ۱۹۷۰ز کال راوروسته د پوهنتون د

[4] -Southland College, Los Angeles
[5] -Professional Societies
[6] -Lincoln
[7] -Nebraska University
[8] -Afghanistan News, English Monthly, London
[9] -Aparsin Company


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

استادانو/ پروفیسورانو د اتحادیي غړی. په ۱۹۸۲ز کال کې د دولتي ضد شب نامو د ليکلو په تور زنداني سو او په ۱۵ کالو حبس محکوم سو.

## محمد صابر روستا باختري

په ۱۹۳۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبي له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. په تهران کې د حقوقو پوهنځي ته تللی دئ. د ژوندون د مجلي د کارمندانو غړی. د آریانا د انسایکلوپیدیا د مدیریت غړی. د شاوخوا شپیتو لنډو داستانونو لیکلوال چي په تهران کې چاپ سوي دي.

## ډاکتر محمد احسان روستامل (تره کي)

(د کرني د رئیس) محمد زمان تره کي زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۳ز کال کې د استقلال له لیسي او په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې ئـې خپله دکتورا په سیاسي علومو کې په فرانسي کې واخیستله. په ۱۹۶۵ز کال کې د صدراعظم سکرتر او سلاکار. په ۱۹۶۰ز کال کې پوهنیار او له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د کابل پوهنتون استاد. په ۱۹۶۶ز کال کې د عدلیي وزیر. په ۱۹۷۳ز کال کې ئـې د (روستامل) تخلص ځکه غوره کړ ځکه چي افغان حکومت د تخلص په توگه د قومي نومونو کارول منع کړي ول. په صدارت عظمی او د عدلیي په وزارت کې ئـې بـېلابـېل اداري دریځونه درلودلي دي. د غوايي له پاځون وروسته په ۱۹۷۸ز کال کې د عدلیي د وزارت د قضایي چارو مرستیال وزیر مقرر سو او له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۳ز کال پورې د اندونیزیا سفیر وو. وادهٔ ئـې کړی دئ او یو زوی او درې لونې لري. اوس په فرانسي کې ژوند کوي.

**نور بیا**

## عبدالحکیم رُستاقي

مؤلف او ښوونکی. د معاصرو افغان لیکوالانو د رسالي لیکوال ...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ